بادشاهی د جهان څه کړی ځانله ولی زیاتی غم
د انصاف تلل موشکیل دی څه به ډیر کړی څه به کم

خپل غمونه دی له لګ دی دجهان غمونه غواړی
داسی تخت به څه کړی چی پری شپه او ورځی ژاړی

د ټټوانو په ګله کې غټ ټټو مخکښی روان وي
لوی بادشاه د ځناورو د همه وو لوی حیوان وي

دا دنیا د سپي لکۍ ده نه نیغیږي نه سمیږي
په وجود توره پیشو ده چې ونځي له توریګي

بادشاهی هله جوړیږي چې نیم والګي، نیم مړه کړي
چې یو کس د بل په غوښو د خپل کور کوتری ماړه کړي

د دې ژوند نه څه مطلب شو؟ یا به مري یا به بل وژني
دا میوه ګلاب دی څه شو، باغ ساتي او بلبل وژني

ربه ما له که دې راکړه بادشاهی د کل جهان
زه به یې واغورزوم له کوره لکه سوټې په ډیران

د یو دوه ګړۍ ژوندون زه په جګړو نه شم تېرولې
د دې ظلم په کټوۍ دې ربه بل کیږده برغولې

ما له راکه څو ګلونه، یو نیازبین شانتي جانان
یو وړوکۍ غوندی باغ او په خوا یې سیند روان

چې یې زه په غاړه ناست یم په یخ سوري خار ولي
په مزه مزه لیکمه د مزی مزی غزالي

کله سوال، منت جانان ته، کله بد او رد ملا ته
د ساغر ساقي صفت کوم د ټیپرو ډک لالا ته

کله کله ته نه ربه د وړو په شان ګیلی
کله تود ژوندی امید، کله سوي اسولی

کله ټنګ، کله ټکور، کله جام، کله دلبر
یو جهان کښې د رنګ ډوب د جهانه بې‌خبر

بادشاهی هغو له ورکړه چې زغملې یی شي زور
چې په لاس لکه قصاب وي، په خصلت لکه منګور

چې خپل ځان ته شي کوَلی قرباني د ورور د وینې
هم ازمولي، هم خواړئ شي د غریب د غوښو پینې

تاج وړَلې هغه سر شې وژل لکه وباء کړه
لکه پړانګ داړل سیرال که، یراول لکه بلا کړه

تخت هم نه پائې بې‌زوره بې د تورې د جلاده
بادشاهان چې څومره ډېر وي دومره وي دنیا برباده

لوی بادشاه یې لویه جوّره دې په وینو زَوو پای
بادشاهی لکه د اور په وریتو او سوو پای

ربه فضل په مونږ وکړه، مونږ ساته د دې آفته
چیرته غټ خر ته په شا که دا د سرو لعلونو کته

سفارش ورته دا وکړه، صیب زمونږ د بابته
پام کوه د دله خره، **غنی** ونه وي په لته

Badshahi Da Jahan Sa Kri Zaan La Wali Ziati Gham
Da Insaf Talal Mushkel Di Sa Ba Der Kri Sa Ba Kam

Khpal Ghamona De La Lag Di Da Jahan Ghamuna Ghwari
Dase Takht Ba Sa Kri Sa Kri Che Pe Shpa O Wazi Jari

Da Tatwano Pa Gala Ke Ghat Tato Makhki Rawan We
Loye Bacha Da Zanawaro Da Hamao Loye Heewaan We

Da Dunya Da Spi Lakay Da Na Neghegi Na Samegi
Pa Wajod Tora Pisho Da Che Wenzi La Toregi

Badshahi Hala Jurregi Che Nim Walagi Nim Mra Kri
Che Yo Kas Da Bal Pa Ghwakho Da Khpal Kor Kutri Maara Kri

Da De Jwand Na Sa Matlab Sho Ya Mri Ya Ba Bul Wajni
Da Meewa Gulab Da Sa Sho Bagh Sathi Ao Bulbul Wajni

Raba Mala Ka De Ra Kra Badshahi Da Kul Jahan
Za Ba Ye Waghurzum La Kura Laka Sothe Pa Deraan

Da Yo Dwa Karay Jwandun Za Pa Jagrro Na Sham Teroli
Da De Zulam Pa Katway De Raba Bal Keda Bargholi

Mala Raka So Guluna Yo Niazbeen Shanti Janan
Yo Waruki Ghunti Bagh Ao Pa Khwa Ye Sind Rawan

Che Ye Za Pa Ghara Nast Em Pa Yakh Suri Da Kharwali
Pa Maza Maza Likama Da Maze Maze Ghazali

Kala Swaal Minat Janan Ta Kala Bad O Rad Mula Ta
Da Saghar Saqi Sifat Kum Da Teparo Dak Lala Ta

Kala Kala Ta Na Raba Da Waro Pa Shan Gili
Kala Tod Jwande Umid Kala Sawi Aswali

Kala Tang Kala Takur Kala Jam Kala Dilbar
Yao Jahan Ke Da Rang Dub Da Jahana Be Khabar

Badshahi Hagho La Warka Che Zghamali E Shi Zoor
Che Pa Laas Laka Qasaab We Pa Haslat Laka Mangoor

Che Khpal Zaan Ta She Kawali Qurbaani Da Wror Da Wini
Hum Azmoli Hum Khwarri She Da Ghareeb Da Ghwakho Pini

Taaj Wrraley Hagha Sar Che Wajal Laka Wabah Krra
Laka Prraang Darral Seral Ka Yarawal Laka Bala Ka

Takht Hum Na Paye Bezoora Be Da Tora Da Jalaada
Badshahan Che Somra Dir We Domra We Dunnia Barbada

Loye Badsha E Loya Jawara Dy Pa Wino Zawo Paye
Badshahi Laka Da Aur Pa Writo Ao Sawo Paye

Raba Fazal Pa Mong Waka Mong Sata Da Di Afata
Cherta Ghat Khar Ta Pa Sha Ka Daa Da Sro Laalono Kata

Sefarish Wrta Da Waka Seb Zmonga Da Babta
Paam Kawa Da Dala Khara **Ghani** Wanawy Pa Lata